# د عبدالرؤف زاهد په شاعرۍ کښې د صنعت تلميح مختصر څېړنيز جاج

## Abdul Rauf Zahid and the Art of Allusion in Poetry: A Brief Overview

لعل بادشاه خيالي[1]

Email: lalbadshahkhialee@gmail.com
Phone: 03128182613

ډاکټر شکيل احمد[2]

Email: shakeeluop@gmail.com
Phone: 03219860765

Issn 2304-1463

**ABSTRACT:**

Prominent Pashto poets have made significant contributions to the Pashto literary tradition, dedicating their entire lives to the service of the Pashto language. These poets have left an indelible mark on various genres of Pashto literature. Among these esteemed names is Abdul Rauf Zahid, a renowned figure known for his depth, insight, and poetic prowess. Born on February 9, 1942, he started his schooling in 1945. This abstract highlights the remarkable life and contributions of Abdul Rauf Zahid, a renowned poet in the realm of Pashto literature.

لکه د نړۍ د نورو قامونو په شان پښتون قام کښې هم ډېر تکړه شاعران تېر شوي دي. دغه شاعرانو خپل ټول ژوند د پښتو ژبې خدمت ته وقف کړے وۀ. دا ددغه شاعرانو د ژبې سره د مينې او د خدماتو ورکړه وه چې د هغوي نومونه په ټوله نړۍ کښې وځلېدل. د پښتو ادبي مېدان کښې د مردان خاوره ډېره زياته زرخيزه ده. دې خاورې ډېر نامتو شاعران زېږولي دي. په دغه شاعرانو کښې يو خوږ ، دروند او د قدر وړ نوم د اروابناد عبدالرؤف زاهد هم يادېږي. ښاغلے زاهد صېب په کال 1942 د عبدالحکيم په کور هوتي مردان کښې د خالي په ورځ پېدا شوے دے، د سکول په رېکارډ کښې ئې د پېداوښت نېټه نهم اګست 1945 ليکلې ده. د ښاغلي عبدالرؤف زاهد د پلار نوم عبدالحکيم د نيکۀ نوم عجب ګل ، د غور نيکۀ نوم راز ګل ، د کودي

---

[1] پي ايچ ډي سکالر، پښتو څانګه پېښور پوهنتون پېښور

[2] . لېکچرار ، پښتو څانګه ، پېښور پوهنتون

نوم عمر ګل ، د پردي نوم داد ګل وۀ چې د مردان په ډانګ بابا مقبره کښې خاورو ته سپارلي شوي دي .

د ښاغلي زاهد صېب تردې وخته پينځۀ شعري مجموعې چاپ شوي دي. څلور شعري مجموعې ئې په ژوند او پينځمه شعري مجموعه ئې د وفات نه پس چاپ شوې ده. ورومبۍ شعري مجموعه,, پرخه ,, په کال 1981، دوېمه مجموعه ,,حادثې ,, په کال 1990 کښې ,, قيامتونه دي لمحې ,, په کال 1992، څلورمه شعري مجموعه,, اعتبار ,, په کال 2004 کښې د چاپ په کالو ښائېسته شوې ده. پينځمه شعري مجموعه,, زېړے,, په کال 2015 کښې د ښاغلي زاهد صېب د وفات نه پس د هغۀ د زوي اعجاز زاهد ابډوکېټ په کوششونو چاپ شوې ده .

د ښاغلي زاهد په شاعرۍ او د هغۀ په ژوند ډېرې خبرې کېدے شي . د هغۀ د شاعرۍ ټول اړخونه رابرڅېره کوُل، د هغې تفصيلي جاج اخېستل وخت او هر اړخيزه مطالعه غواړي نو ځکه زۀ د خپل مقصد او د مختصر څېړنيز جاج په خاطر په دې مقاله کښې د زاهد صېب د هاغه شاعرۍ مطالعه او څېړنه کوُل ضروري ګڼم ، په کومه کښې چې ئې د صنعت تلميح په کالو ښائېسته شاعري راوړې ده .

شاعرۍ کښې د صنائع بدائع پکارؤنه په شعوري او غېر شعوري دواړه ډوله شوې ده. دغه روايت لۀ ډېر پخوا نه پښتو شاعرۍ کښې رواج موندلے دے. هم په دغه تتبع کښې زاهد صېب په خپله شاعرۍ کښې د صنعت تلميح پکارؤنه کړې ده. په دې مختصره جائزه کښې به د هغۀ په شاعرۍ کښې دغه يو توکې څېړلے شي او د ښاغلي زاهد صېب د شاعرۍ دغه معنوي ښائېست او ښکلا به راډاګې ته کوُلے شي .دلته ددې خبرې ضرورت دے چې لوستونکي په دې پوهه شي چې تلميح څه ته وائي ، په شعر کښې د تلميح پېژندنه به څنګه کوو نو ځکه داخبره ضروري ګڼم چې د ښاغلي زاهد صېب په شاعرۍ کښې ددغه صنعت رابرڅېره کوُلو نه وړاندې وړاندې ددغه صنعت پېژندنه زړۀ ته پربوځي. راځئ چې له هرڅه اول د صنعت تلميح باره کښې ځان پوهه کړو چې ددې صنعت مطلب څه دے.

د پښتنو شاعرۍ په وړومبي ، دوېم او دريم دور کښې د صنعت تلميح اړخ ته ډېره توجو ورکړې شوې ده. وئيلي شي وړومبے د وروستي پل وي نو ځکه په موجوده دور کښې هم ډېرو

شاعرانو دغه هنر ته پام لرنه کړې ده. په خپله شاعرۍ کښې ئې د تلمیح استعمال ته دوام بخښلے دے. اروابناد عبدالرؤف زاهد د اوسني دور هاغه شاعر دے چې د هغهٔ شاعري د ډېرو ګڼو موضوعاتو او صنعتونو آئینه داره ده.

په شعر کښې صنعت تلمیح راوړل یوې زړې تاریخي واقعې ته اشاره کؤل یو هنر دے ، استاکاري ده. د داسې شاعرۍ په اورېدو یا لوستو هاغه ټوله تاریخي واقعه راوړاندې شي د کومې په تناظر کښې چې شاعري تخلیق شوي وي .

لکه د ځینو متلونو په شان په تلمیح کښې هم پوهان زړې تاریخي واقعې، سانحې یا یوې مسلې ته اشاره کوي خو سره ددے هرڅه باوجود صنعت ارسال المثل او صنعت تلمیح خپل ځانله جدا جدا مقام موندلے دے. خپل حېثیت ئې برقرار ساتلے دے. د متل او تلمیح باره کښې داسې وئیلي شي چې

"د متل او تلمیح تر مینځه معنوي تړون ضرور شته چې ددے په پس منظر کښې د حکمت او هوښیارتوب خبرې ، دود دستور او د ژوند د تېرؤلو د طریقو څه ناڅه اړخ باندې رڼا اچؤلے شوي وي. د خپل معنوي تړون په سلسله کښې په بعضې متل د تلمیح او په بعضې تلمیح د متل ګمان هم کېږي خو د دواړو د معنوي پس منظر باوجود دا صنعتونه د نړۍ په هره ژبه کښې ځانله او جدا جدا حېثیت لري"[1]

په لغت کښې یو څیز ته په تېزۍ سره کتل ، ورته اشاره کؤل، یا پرې سرسري شان نظر غورزؤلو ته تلمیح وئیلي شي، په ادبي اصطلاح کښې د علم بدیع یو صنف دے چې ځانته معنا او مطلب لري. د سید عابد علي شاه عابد مطابق تلمیح دے ته وئیلي شي چې

"شاعر اپنے کلام میں کسی مشہور قصے یا اصطلاح وغیرہ کی طرف اشارہ کرے اور جب تک یہ اشارہ توضیح کا رنگ اختیار نہ کریں شعر کا مفہوم متعین نہ ہو"۔[2]

علامه جلال الدین سیوطي د تلمیح باره کښې څه په دې ډول لیکي

"تلمیح داده چې په کلام کښې د یوې قیصې، شعر یا متل ته د پوره ذکر نه بغیر هغې پله اشاره وکړے شي"۔[3]

په تلمیح کښې شاعران په خپله شاعرۍ کښې یوې زړې تاریخي واقعې ته اشاره کوي. دې صنعت ته په ټوله ادبي نړۍ کښې ډېر لوے اهمیت ترلاسه شوے دے.

د ښاغلي عبدالروف زاهد په شاعرۍ په ګڼ شمېر مذهبي ، تاریخي ، روماني او داسې نور تلمیحات راوړي شوي دي . ښاغلي زاهد صېب په خپل کلام کښې د تلمیح په غرض د تاریخي واقعاتو او د شخصیتونو د تفصیلي ذکر نه بغیر په داسې هنر اشاره کړې ده چې ډېره په اسانه ذهن ته ټوله واقعه راوړاندې شي. د دوي په شاعرۍ کښې د حضرت یعقوب علیه سلام ، حضرت ایوب علیه سلام ، حضرت یوسف علیه سلام ، زلیخا بي بي ، حضرت حسېن ، یزید ، کربلا ، فرعون ، شداد ، سقراط ، ارسطو ، افلاطون ، منصور ، لېلا مجنون ، فرهاد شیرینۍ او داسې نورو تاریخي شخصیتونو او تاریخي واقعاتو ته اشاره شوې ده. دلته په دې مختصره څېړنه کښې د هرې یوې تاریخي واقعې تفصیلي ذکر او قیصه راوړل ممکنه نه ده خو د خپل مقصد سرته رسؤلو دپاره هاغه شاعري راوړل ضروري ګڼم په کومه کښې چې ئې دغه واقعاتو ته اشاره کړې ده یا ئې د خپلې یوې واقعې سره د بلې تاریخي واقعې ذکر کړے دے. د حضرت ایوب علیه سلام او د حضرت یعقوب علیه سلام مذهبي قیصې ته ئې څه په دې ډول اشاره کړې ده .

صبر د ایوب وي کله اوښکې د یعقوب
عمر مې تېرېږي څومره ګران ستا په کوڅه کښې
(52)

لکه یعقوب مې جوړ زاهده ړندوي ځان پسې
ګني شبې ئې د دیدن په هر یو لور وربږي
(107)

(4)

حضرت یوسف علیه سلام د حضرت یعقوب علیه سلام زوے وۀ. ددوي د قیصې سره به د زلېخا بي بي ذکر هرچا اورېدلي وي . ددغه تاریخي او مذهبي قیصې ذکر په قرآن مجید او

تاريخي كتابونو كښې خوندي دے . تاسو به د حضرت يوسف عليه سلام د مصر په بازار كښې د غلام په حېث د خرسؤلو واقعه اورېدلي وي . ښاغلي زاهد چې په کوم شعر كښې دغه واقعې ته اشاره کړې ده ، څه په دې ډول ده

زۀ زلېخا ورپسې اوښکې د ارمان تويؤم

زما يوسف مېله كښې ګرځي زما تن خرڅوي (113)

(5)

ښاغلي زاهد صېب په خپله شاعرۍ كښې د حضرت امام حسېن ذكر راوړے دے. حضرت امام حسېن زمونږه د خوږ نبي حضرت محمد صلي الله عليه وآليه وسلم نمسے او د حضرت علي رضي الله عنه زوے وۀ. هركله چې حضرت امام حسېن د يزيد حكمراني غېر شرعي او غېر قانوني وګرځؤله، د يزيد ابن معاويه د بيعت نه ئې انكار وكړو نو ددے په وجه په لسم محرم 61ھ (10، اكتوبر 680) د كربلا په نوم يوه واقعه راپېښه شوې وه. په دې واقعه كښې حضرت امام حسېن رضي الله عنه او نور ډېر مسلمانان شهيدان شوي وو . ښاغلي زاهد چې په كومو شعرونو كښې د حضرت امام حسېن د كربلا او د يزيد ذكر راوړے دے، يا ئې د موجوده حسېن او يزيدي دور په حقله شاعري كړې ده، هغه ډېره د قدر وړ ده. په شعري مجموعه ,, پرخه ,, كښې دا شعر .

پربېږده چې شو مړۀ د مرګ قيصه وايو

مونږ لكه حسېن چې شپې ته شپه وايو (140)

(6)

د ښاغلي زاهد صېب په شعري مجموعه,, قيامتونه دي لمحې ,, كښې دايو څو شعرونه چې د حضرت امام حسېن سره سره په كښې د كربلا او يزيد ذكر راوړے شوے دے

په زړهٔ کښې د یزید چرته څه را نهٔ شي ملګریو
نن هم لوبې په ځان د کربلا مونږه کوے شو(18)

د یزید ظلم کړل را یوځاے د حسېن ملګري
ګني ناپوهه د صحرا خلق په څه پوهېدل(22)

څنګه به د ژوند په کربلا کښې شي یذید ته نېغ
څوک چې د حسېن د حوصلو په لاره نهٔ ځي (35)

کهٔ یزید شته دے ، حسېني جزبه هم وروکه نهٔ ده
چاوې چې بیا د کربلا خبرې نه شي کېدے (40)

یا به خلهٔ ګنډې یا به په لاره د حسېن ځې
نن سبا خو شپې ته شپه وئیل هم تماشه شي (70)

(7)

د ښاغلي زاهد صېب په شعري مجموعه,, اعتبار ,, کښې راوړي شوي دا یو څو شعرونه۔

وائي چې دے مړ ، خو یزید مړ نهٔ دے
جام څکه نسکور دے د ژوند لارو کښې (39)

بیا څوک یزید د حسېن لارې نیسي

د فرات غاړه ، کربلا تنده ده (71)

ښکاري د حسېن او د یزید قیصه زړه شوه

خلق اوس یو نوې کربلا غواړي لۀ خدایا (150)

(8)

د ښاغلي زاهد په شعري مجموعه,, زېرے ,, کښې دا یو څو شعرونه:

بې شمېره یزیدان دي خو حسېن به همېش یو وي

هغه چې منفرده کربلا سره کړي مینه (14)

بیا به ملګرتیا د یزید نۀ کوي

څوک هم چې حسېن ، کربلا پېژني (106)

چرته د زلفو زولنې ، چرته زنځیر د یزید

د کوم یو قېده به ځان دلته کښې ازاد کړي سړے (167)

(9)

ښاغلي زاهد په خپله شاعرۍ کښې د حسېن بن منصور ذکر هم راوړے دے څوک چې نن سبا د منصور په نوم مشهور دے . د بغداد بېضا فارسه په یو کلي کښې پیدا شوے وۀ ، د نېکانو ، بزرګانو سره ئې ډېره ناسته کړې وه . د مکه معظمه ، هندوستان ، چین او دداسې نورو ځایونو سفرې ئې کړے وے. د خپل خالق الله سره ئې ډېره مینه وه . یوه ورځ چې د منصور لۀ خلې

لۀ ډېرې مينې اناالحق نعره ووته نو ددغه وخت حسد كوونكو علماؤ په منصور د كفر فتوي ولګوله ، هغه له ئې د سزا وركؤلو مطالبې شروع كړې د څه په وجه چې منصور بې ګناه په دار شۀ . ښاغلي زاهد د منصور دغه واقعې ته پوره اشاره كړې نه ده خو چې چرته ئې د خپلې موجوده مينې خبره كړې ده ، د دوران ناكړدې ئې رابرڅېره كړي دي ، هلته ئې د منصور نوم له ځائے وركړے دے. خپل شعر ته ئې ښكلا وربخښلې ده ـ

تاته به منصوره وي تياره د زلفو ياده

تۀ د چا د ستركو لۀ نظره څه خبر ئې (13)

زاهده زلفې د اشنا چې درنه خلاصې نۀ شي

تۀ كۀ منصور پسې ورځې چرته د دار كوڅې له (34)

چې د منصور په لاره نۀ ځې نو پرېشانه ګرځه

زاهده يار ته څوک په تشو اسوېلو نۀ رسي (46)

(10)

د ښاغلي زاهد صېب په شعري مجموعه ,, حادثې ,, كښې دا شعرونه:

چې د منصور نه وروستو پاتې نۀ شم

شابه په زلفو كښې جوتې راكړه (68)

د قامت خبرې پرېږده ، په زلفانو پسې مه ځه

د منصور هسې آزاد شه په قېديانو پسې مه ځه (87)

(11)

دغه رنګه په شعري مجموعه,, زېړے ,, کښې دا يو شعر هم د ستائنې جوګه دے

د اناالحق نعره يواځې د منصور خو نۀ وه

دلته خو مونږه روزانه په دغه لاره ورځو (165)

(12)

سقراط د مغربي نړۍ يو تکړه فلسفي وۀ . 470 قبل مسيح د يونان په ښار ايتهنز کښې پېدا شوے وۀ. سقراط فطرتي د ښه اخلاقو سختن وۀ . حق پرست او مهربان معلم وۀ . د خپل حق پرستانه فطرت او د مسلسل غور او فکر نه پس ئې د ديوتاؤ د حقيقي وجود نه انکار وکړو د څه په وجه چې د جمهوريه ايتهنز عدالت هغه ته د مرګ سزا واوروله، سقراط د زهرو پياله وڅښله . ښاغلي زاهد په خپل يو شعر کښې د سقراط د زهرو پيالۍ ته څه په دے ډول اشاره کړې ده.

د سقراط پياله د زهرو لا خالي نه ده زاهده

بيا دي خلق جمع شوي چې د چا امتحان اخلي (162)

(13)

په شعري مجموعه ,, زېړے ,, کښې دا شعرونه

لاسو کښې پياله د سقراط راکړه وخت

مرمه د نرتوب په مطلب پوهه نه شوم (71)

چرته سقراط پياله په لاس چرته فرهاد کني غر

د عشق مېله ده لګېدلے خو تر ښاره ورځو (165)

(14)

ښاغلي زاهد صېب په خپله شاعرۍ کښې د ارسطو او افلاطون ذکر راوړے دے. افلاطون د سقراط شاګرد او د ارسطو استاذ وۀ چې د 437 ق م 347 ق م خوا او شاه ژوندے وۀ (15) د افلاطون د نظريې مطابق شاعري د حقيقت نه لرې وه . د هغۀ دا خيال وۀ چې شاعري د علم او پوهې د کمي په وجه پېدا کېږي. شاعري چې د جذباتو پرورش کوي انساني عقل او فکر ته نقصان رسوي. دا او دغه شان نور ډېر اعتراضات وو چې افلاطون د شاعرۍ او د شاعرانو باره کښې وړاندې کړي وو . وئيلي شي شاعرۍ ته چې د خپلې صفايئ دپاره د يو وکيل ضرورت پېښ شۀ نو هغه هم د افلاطون د شاګرد ارسطو په ذات کښې په لاس ورغلو. ارسطو (384. ق م . 322 ق م)(16) په خپل کتاب بوطيقا ,, Poetics ,, کښې د افلاطون د نوم اخستو نه بغير د افلاطون د دغه فکر او اعتراضونو جواب ورکړے دے او ښۀ په کاميابۍ سره ئې د شاعرۍ دفاع کړې ده. د افلاطون دا کوشش وۀ چې فلسفې ته په شاعرۍ برتري ورکړي. تر دے چې افلاطون په خپله هم شاعر وۀ خو ټوله تؤجو ئې فلسفې طرف راګرځولې وه. ارسطو د فلسفې سره سره د شعر و شاعرۍ په حقله ښکلي خيالات لرل .د ښاغلي زاهد صېب دا يو شعر:

چاته مه وايه زاهده چې شاعر يم غزل ليکم

ارسطو په کښې څوک نشته دلته هر يو افلاطون دے (47)

(17)

په تېره زمانه کښې د فرعون او شداد په نوم ډېر ظالمان حکمرانان تېر شوي دي. هر کله چې حضرت موسي عليه سلام فرعون ته د خپل نبوت نخښې نخښانې وښودلے، يو الله ته د رابللو تبليغ ئې شروع کړو نو فرعون دغه بلنه قبوله نۀ کړه. يوه ورځ داسې راغله چې فرعون سره د خپل لښکر په اوبو کښې ډوب شۀ. د فرعون لاش نن سبا د مصر په ميوزيم کښې موجود دے. دغه

رنګه شداد بن عاد هم یو ظالم حکمران وۀ. شداد ته چې حکمراني ملاو شوه د هغۀ سرکشي نوره هم له حده زیاته شوه. الله تعالي د یوې غیبي چغې په ذریعه شداد سره د خپل مملکت هلاک کړو. ښاغلي زاهد په خپل یو شعر کښې د خپل موجوده دور د فرعونیانو او د شداد خویه خلقو ذکر څه په دے ډول کړے دے

د خدا ے کور کښې چې ټول یو شان انسانان دي
دلته ولې څوک فرعون او څوک شداد شي (132)

(18)

په روماني قیصو کښې د لېلا مجنون په نوم یوه قیصه مشهوره ده. دد ے تعلق د نجد عربستان سره د ے. ددې قیصې په حقله فلمونه او ډرامې جوړې شوي دي. په نورو مختلفو ژبو کښې ترجمه شوې ده. د مجنون خپل نوم قیس او د لېلا نوم لیلا عامري وۀ. دواړو په یوه مدرسه کښې سبق وئیلو ، په یو بل مئینان وو . ښاغلي زاهد په خپله شاعرۍ کښې د لېلا مجنون ذکر څه په دے ډول کړے دے.

وریسې وا نۀ خلې قدم د مینې هتک به وي
داسې لیلا دې ځي مجنونه چې مخ نۀ راړوي (8)

(19)

په شعري مجموعه,, زېر ے ,, کښې دا یو شعر

د مجنون دور بیا نۀ راځي زاهده
د اختر په ورځ جامې بدلؤل غواړي (82)

(20)

د پښتو اولسي ادب کښې د فرهاد شېرینۍ په نوم یوه خوندوره قیصه هم خوندي پرته ده. فرهاد د یو سنګ تراش زوے او شېرینۍ د باچا لور وه. بادشاه دا نۀ غوښتل چې خپله لور دې فرهاد ته ورکړي. بادشاه دا یو شرط اېښے وۀ چې فرهاد د بې ستون نومې غر کښې د اوبو دپاره لار وباسي، پس لۀ هغې به شېرینه ورکړي. لېونتوب او مئینتوب ته غرونه څه وي. وئیلي شي چې فرهاد د شېرینۍ په مینه کښې دې حال ته رسېدلے وۀ چې هغه هر یو شرط سرته رسؤلو ته تیار وۀ. دا ئې د خپلې پښتو ، آنا یوه مسله ګرځولې وه. د قیصې مطابق فرهاد د کوه بېستون دنګه غړۍ رېزه رېزه کړه خو چې کله ئې د غر شاته بهېدونکي نېر له کلي طرف ته لاره ورکوله چې د نېر اوبۀ کلي طرف ته راواړوي نو په دغه وخت بادشاه د یوې بوډۍ ښځې په خلۀ په دروغه دا خبر فرهاد ته ولېږو چې شېرینه مړه شوه .فرهاد لۀ ډېره سوخته او لۀ ډېره غمه خپل سر له تېشه راواچوله او مړ شۀ. ښاغلي زاهد صېب چې په کومو شعرونو کښې فرهاد او شېرینۍ ته اشاره کړې ده ، هغه څه په دے ډول دي.

چاته خیته وي شېرینه ، چاته حسن وي غر کني
فرق نشته د زړۀ سره په مزدور او کوه کن کښې

مخ د شېرینې ته فرهاد شي کتے
دیدن واعظه په تسبو نۀ کېږي (59)

(21)

دغه رنګه په شعري مجموعه ,, اعتبار ,, کښې دا یو څو شعرونه

کۀ د مقصد شېرین ورځي په ګوتو
لکه فرهاد به سرے غر ته کېني (79)

ماته خو قابل د عشق ښکاره نۀ شۀ

څه کۀ فرهاد سر مات کړۀ د غر سره (187)

زمونږ د وخت فرهاد تېشه ماته کړه

خدايا د مينې نه اور چرته وروک شۀ (194)

(22)

د ښاغلي عبدالرؤف زاهد په شاعرۍ کښې صنعت تلميح ډېره ښکلا پېدا کړې ده . لکه څنګه چې متل د ژبې کالے دے د شعر ښائېست پرې زياتيږي دغه رنګه د تلميح سره هم ذهني تربيت کېږي ، پوهه کښې زياتوالے راولي. د شعر مقام او ښکلا پرې زياتېږي. تلميح د راروان نسل د پاره د لار ښودنې ذريعه ده . غرض داچې ښاغلي زاهد صېب په کومه شاعرۍ کښې د تلميح پکارؤنه کړې ده هغه ډېره د قدر وړ ده. دا قسمه شاعري د درس او تدريس غوره ذريعه وي چې د خلقو لۀ نظره تېره شي. ددې مطالعه وکړي ، په خپل عملي ژوند کښې ئې راولي.

## حوالې:


(1)خيالي ، لعل بادشاه ,, د پښتو متلونو تهذيبي او لساني مطالعه,, خیبر پښتونخوا, ډايريکټوريټ ، اف کلچر حکومت ، 2012 ، مخ 37

(2)عابد ، سيد عابد علي ، البديع ، مجلس ، ترقي ادب ، لاهور ، جلد 1، مخ 621 ،

(3)جلال الدين ، علامه ، اسبوطي ، شرح عقود الجهان في علم المعاني واليان ، معطق البابي الحل ، مصر ، 1208ھ مخ 172

(4)زاهد ، عبدالرؤف ,, پرخه ,, مردان ، 1980 ، مخونه ، 52 ، 107

(5)زاهد ، عبدالرؤف,, قيانتونه دي لمحې ,, مردان ، 1992 ، 91

(6)زاهد ، عبدالرؤف ، ,, پرخه ,, مخ 140

(7)زاهد ، عبدالرؤف ، قيامتونه دي لمحې ، مخونه ، 18، 22 ، 35 ، 40 ، 70

(8)زاهد ، عبدالرؤف ,, اعتبار ,, مخونه ، 39 ، 71 ، 150

(9)زاهد ، عبدالرؤف ,, زېرے ,, مخونه ، 14، 106، 167

(10)زاهد ، عبدالرؤف ,, پرخه ,, 13، 34، 46

(11)زاهد ، عبدالرؤف ,, حادثې ,, 68 ، 87

(12)زاهد ، عبدالرؤف ، زېرے ، مخ 165

(13)زاهد ، عبدالرؤف ، اعتبار ، مخ 162

(14)زاهد ، عبدالرؤف ، زېرے ، مخونه 71 ، 165

(15)جميل جلالي ، ډاکټر ، ارسطو سے ايلٹ تک ، اسلام اباد ، نشنل بک فاونډيشن ، 1975 ، مخ 19

(16)هم دغه ، مخ 23

(17)زاهد ، عبدالرؤف ، پرخه ، مخ 47

(18)زاهد ، عبدالرؤف ، زېرے ، مخ 132

(19)زاهد ، عبدالرؤف ، حادثې ، مخ 8

(20)زاهد ، عبدالرؤف ، زېرے ، مخ 82

(21)زاهد ، عبدالرؤف ، پرخه ، مخونه 20 ، 59

(22)زاهد ، عبدالرؤف ، اعتبار ، مخونه 79 ، 187 ، 194

## کتابونه :

داود ، داور خان ، پروفېسر ، پښتو ادب کښې متل ، پېښور ، اول ځل ، 1990

خيالي ، لعل بادشاه ، د پښتو متلونو تهذيبي او لساني مطالعه ، خيبر پښتونخوا حکومت ، ډايريکټوريټ آف کلچر ، 2012

زاهد ، عبدالرؤف ، پرخه ، مردان ،اول ځل ، 1980

زاهد ، عبدالرؤف ، حادثې ، مردان ، انعام پرنټنګ پرېس ، 1990

زاهد ، عبدالرؤف ، قيامتونه دي لمحې ، مردان ، 1992

زاهد ، عبدالرؤف ، اعتبار ، مردان ، پښتونخوا چاپ ځاے ، 2004

زاهد ، عبدالرؤف ، زېرے ، مردان ، ډائمنډ پرېس ، جنوري 2015

بادشاه روم ,, د خوشحال تلميحات او اشارات,, د ايم فل تحقيقي مقاله ، پېښور ، پښتو څانګه ، پېښور پوهنتون ، 2001 ، ناچاپ

اردو کتابونه:

عابد ، سيد عابد علي ، البديع ، مجلس ترقي ادب ، لاهور ، جلد 1 ،

جميل جالبي،ڈاکٹر، ارسطو سے ایلٹ تک، اسلام اباد، نشنل بک فاونڈیشن،

انور جمال، ادبي اصطلاحات. اسلام اباد. نشنل بک فاونډيشن. 1998

محمود نيازي ، خزانه تلميحات ، لاهور ، ملک بک ډپو ، نديم يونس پرېس ، د چاپ کال نۀ لري

1

2

3